


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۰

# د مګريا غوماشي يادونه

خپرونکي : د سنايي پرمختيايي موسسه
مسول مدير : راز محمد دليلي
ليکونکی : عبدالله کاکړ
پښتو ژباړه : پوهنمل امان الله لودين
انځورګر : فتانه بکتاش عارفي
کمپوز او ديزاين : سيد نذير حسيني

لومړی طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۶ د ورې مياشت.
دوهم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۷ د ژمی مياشت.
دريم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۸ د ژمی مياشت.
څلورم طبع : ۲۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۹ غويا مياشت.

اتم سرک، قلعه فتح الله د سنايي موسسه: په کابل کې پته
ټيلفون: ۰۲۰-۲۲۰۱۶۹۳
۱۸۱، پوسټ بکس
برېښنا ليک: sieai@brain.net.pk
انټرنيټ پاڼه: www.sanayee.org
اورګزي پلازې شانه، يونيورسټي ټاون، پېښور پاکستان: په پاکستان کې پته.
ټيلفون: ۰۰۹۲-۹۱-۵۸۴۲۱۵۵-۹۱۵۸۴۱۶۵
فکس: ۰۹۲+۹۱-۵۸۴۵۱۳۹

ددې کتاب ټول حقوق د سنايي پرمختيايي
موسسې پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۰

# د ملاریا غوماشي یادونه

## د سنائی پرمختیائي موسسه

## تصویري کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان تنکیو او ددی

# پخوانی او تاریخی وطن د

# راتلونکی جوړونکو ته

# وړاندی کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

ستاسو په لاس کې کتاب د ماشومانو او تنیکو ځوانانو د ادبیاتو په سبك لیکل شوی دی تر څو ددې کتاب د لوستلو په لړ کې په دې پوه شي چې وقایه له درملنې (تداوی) څخه غوره او ګټه وره ده.

د چاپیریال د حفظ الصحې مراعات د ژوند او انساني روغتیا ضامن دی.

لکه چې وایي

سالم عقل په سالم بدن کې دی

هڅه کوونکی فعال ژوند هم له روغتیا سره رابطه لري.

په دې کتاب کې زیار ایستل شوی څو جوته شي چې څرنګه مضره حشرات کورونو ته لاره پیدا کوي او د کورنۍ د بې پروایۍ له کبله د میکروبونو د انتقال او ناروغۍ سبب ګرځي. برسیره پر دې هغه عوامل چې کورونو ته د حشراتو د داخلیدو لاره برابروي د ملریا د غوماشي د یادونو په کیسه کې توضیح شوي دي. همدا رنګه هغه تدبیرونه چې د میکروبونو د انتقال او له هغو څخه د خطرناکو وقایعو مخنیوي کیږي هم ښودل شوي.

له ګرانو او زړه سواندو لوستونکو څخه هیله من یم چې د لیکوالۍ په لاری د نوی لاروی له تیرو تنو څخه سترګې پټې کړی او خپل نظریات، انتقادات او وړاندیزونه له مونږ څخه ونه سپموی.

والسلام عبدالله کاکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناشر سرلیک (مقدمه)

د قادر او متعال خدای(ج) شکر ادا کوو چې موږ ته یې ددې توفیق را په برخه کړ چې د سنایي پرمختیایي موسسې د یوي اوږدې وقفی څخه وروسته د ماشومانو د کتابونو د چاپ او خپرولو د لړۍ په لیکه کې دستاسو په لاس کې کتاب خپرولو وسپاره.

دا کتاب چې په روان نثر په خاص لطافت او په ډیره خوږه ژبـه نازولو ماشومانو ته لیکل شوی دی په زړه پوری تصویرونه او ښوونیزه کیسه چې د انسان د یوه تریخ دښمن یعني یوې ضرر رسوونکې حشرې (د ملریا غوماشی) یادونه دي.

چې له لوستلو او اوریدلو څخه یې د نوبتی تبې (د ملریا د تبې) لړزې د لوستونکی او اوریدونکی په بدن راځی او دی ته متوجه کیږي چې خپلې روغتیا او د چاپیریال حفظ الصحي مراعات په واسطه ځان له ناروغی څخه وقایه او د ناروغی په صورت کې د متخصص داکتر په مشوره تداوي کړي. د سنایي پرمختیایي موسسې او د باس د نشراتی مرکز هدف دګران وطن افغانستان د خلکو د ژوندانه بهبود او ښه والی دی.

والسلام

راز محمد «دلیلي»


د سنایي پرمختیایي موسسی عمومي رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ملریا غوماشي یادونه

د دوبـــــې په تودو ورځو کې یوه ورځ ډېره ستومانه او ستړې شوې وم. دا لدې کبله وه چې ما غوښتل هغه کور ته د ننه شــم ناڅاپه زما وزرونه د کړکۍ له جالۍ ســره ونښتل مخ او ســرمې خوږ شــول. کینه پښه مې په جالۍ کې بنده شوه نږدې وو چې د انسـان په لاس ورشـم. په ډېره سـختۍ مې ځان خلاص کړ او سرګردانه شـا وخوا ګرځېدم. فکر مې کاوه او د تیروخت په یادونو کې ډوبـه وم چې په پخوا زمانو کې مـوږ ښه ژونـد درلـورد، داله دی کبـله وو چې ځینې جالۍ بـه څیری وې او لوې سـورې بــه یې لرل او موږ کولای شــول چې په آســانۍ خونو ته داخل شــو

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل وخت په خوښۍ تیر کړو او خپلې ګېډې مړې کړو. لاکن اوس داسې جالۍ استعمالیږي چې سوري یې ډېر کوچني دي او موږ نشو کولای څو نوته د ننه شو. په هر حال په نو موږ ورځ له ډیرو ګرځیدو وروسته ډیره ستړې او بې حوصلې شوې وم، ځکه چې بې جالۍ کرکۍ پیدا نشوه.

ناڅاپه را په یاد شول چې له خپلو دوستانو څخه مرسته وغواړم په تلوار د وږو مور او قانغوزك ته په داسې حال کې چې له لوږې څخه مې پښو دمه نلرله او سامې بنده بنده کیده ور نږدې شوم او موضوع مې هغوي ته بیان کړه. هغوي قبوله کړه او تصمیم مو ونیوه چې په ګډه به کار شروع


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو د هغوي په منځ کې زما قـــدلوړ وو.
دوربـــین یې ماته راکړ چې یوه بـــی جالۍ
کرکۍ پیدا کړو. ډیر کوښښ مې وکړ لاکن
نتیجه یې ورنکړه نږدې وو چې ناهیلې شم
ناڅاپه مې یو کور تر ســـترګو شـــو چې
کړکیو یې جالۍ نلرلې ډیره خوښه شـــوم او
دوستانو ته مې وویل چې ښکار پیدا شو،
موږ بریالي شو. لاکن زموږ ورځ تیره شوې
وه د شپې ناوخته هره خوا تیاره وه.
د وروږو مور په داسې حال کې چې له خوښۍ
په جامو کې نه ځایده ویې ویـل: تـه خـو
وزرونه لرې او لـه کړکۍ څخه دا خیلیدای
شې! موږ څه وکړو؟
ماورته وویل: تشـــویش مه کوۍ هغه کور

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کړکۍ يې جالۍ نلري د اوبو لارې يې هم جالۍ نلرې، تاسو کولای شي د اوبو لارو څخه پخلن ځای ته ځان ورسوئ په هغه ځای کې به سره يو ځای شو او اوضاع به مطالعه کړو. کله چې پخلن ځای ته داخله شوم عجيبه شانته حال وو. زما په فکر د کور خاوند ميلمانه لرل. ډول ډول خواړه په ډول ډول لوښو کې پاته وو.

مچانو هم جشن درلود ترموږ د مخه يې د پخلن ځای نيولی وو.

کثافت لوښی له ناولو کثافاتو ډک وو او لاندنۍ برخه يې سورې وه چې کثافتونه له هغی څخه د بـــــاندې وتلي وو. زموږ خوشحالي د دی صحنو له ليدو څخه ډيره


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاته شــوه چې نه اندازه کیده. د کثافتو
بـــــوی موږ ته د ګلاب د عطرو په څیر
خوشبــویه ده. چې هرې خوا خپور او زموږ
دماغ ته رسیده.
د پخلن ځای په بله خوا کې یو بې سرپوښه
مات ســطل ایښودل شــوی وو چې په هغه
کې د ډوډۍ ټوټې او د کیك او کلچو میده
چې چڼاسی یې کړي وو ترسترګو کیده.
نه وینځل شــوي لوښي او ســرلوڅی تور
دیګی چې له شیدو څخه ډك وو ترسترګو
شو. هرو مرو دا شیدې یې د سهار د چای
لپاره پیرودلی وی.
ما خپل وزرونـه او ځان په کثافـت لـوښی


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کې څوځلې داخل کړ او څو میکروبونه چې
زما همیشه نې ملګرې دې له ځان سره
واخیستل او د شیدو په لوښي کې مې
څوغوټې وخوړې او شیدې مې په
میکروبونو ولړلې. په دې وخت کې مې
ولیدل چې دوړېی مور او نور دوستان هم را
ورسیدل هغوی ته مې وویل چې ولې ناوخته
راورسیدی؟ دوی وویل: (نږدې وو چې د
اوبو لارو کې د کور پته غلطه کړو لاکن د
پخلن ځای د کثافت د لوښی او سر لڅو
خوړو بوی له مور سره مرسته وکړه څو موږ
پته پیدا کړه. ته خه پوهیږې چې زموږ د
شامې (بوی کولو) حس د انسانانو په نسبت
ډیر قوي او حساس دی. موږ له ډیر


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ليرې ځاى څخه د خوړو او كثافاتو بوى
حس كوو او په تلوار هغه ځاى ته ځان
رسوو. په همدې وخت كې قانغوزك له
خپلو ملګرو كرېيو سره چې هغوى يې هم
خبر كړي وو يو ځاى راورسيدل. هغوى
وروسته له هغې ميلې څخه چې په كثافت
لوښي كې ئې تر سره كړه د ناوينځل شويو
لوښو او تور ديګي په خوا روان شول. ما هم
ځان ورورساوه ومې ليدل چې د ديګ منځ
كې داسې كباب وو چې له خوښۍ څخه مې
خپل وزرونه وخنډل او ګيډه مې ښه مړه كړه
يو ځل بيا مې په كثافت لوښي كې ځان
ككړ كړ او كباب په لعاب كې مې څو ځلې
سر كونډۍ ووهلې او په هغه ځاى كې مې


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

میکروبونه خوشې کړل بیا والوتم. ناڅاپه
مې د پخلنځي په کنج کې د حشراتو ضد
درملو په بوتل سترګې ولګیدې او له خندا
څخه مې پښتورګی په درد شول او له ځانه
سره مې وویل:
کله چې نظافت مراعات نه شي د حشراتو
ضد درمل څه ګټه لري؟
په هر حال د پخلن ځای د ناوینځلو شوو
او سرلوڅو خوړو سره موښه وخت تیر شو.
له دی ورسته د خونو وار (نوبت) شو او د
هغو خواته مو یو ځای حرکت وکړ. په لویه
خونه کې د کور خاوند له میلمنو سره بیده
وو. په میلمنو کې یو ماشوم چې په دانده
خوب بیده وو او په لوړ آوازئې خروپف


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کاوه، کله چې هغه ته نږدې شوو پوهیدو چې
په ککړه خوله بـیده شـوی دی ځکه چې د
خولی شاوخوائې سـریښناکه او له کثافاتو
ډکه وه. خولی یې بدبوی کاوه. کیدلای شی
آیسـکریم ئې خوړلي وي. ډیر ژر مې د هغه د
شونډو او لاسونو په ښتهلو پیل وکړ او څو کلك
نیښونه مې ورچخ کړل وروسـتـه مې د
کثافاتو میکروبونه چې د ځانه سره د اوړي
وو د نوموړی هلك د خولې په کنجونو کې
خوشې کړل او د بـی نظافت انسـانانو څخه
مي د زړه قـصد واخیسـت. زموږ جشـن او
خوشحالی په همدی وخت کې شروع شوه له
نڅا او خندا نږدی وو چې ضعف وکړو.
هر یو موچې چیچه داسې ناراحته کیده چې


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

پر خپل سـر او مخ یې ځان ته ښپیرې
ورکولې. په زړه پورې خو دا وه چې دوې فکر
کاوه چې موږ یې له منځه وړي یو خو موږ په
ډیره چټکتیا سره د بـالښتونو خواته پټیدو
او بیا به مو پر هغوي حمله کوله او چیچل به
موکول د یوه میلمه خوله وازه (خلاصـه) پاتـه
وه ما غوښتل ورد ننه شـم خو ومی لیدل چې
د ورړ ی مور تر ما د مخـه د هغـه خولـی تـه
ننوتی او د ژبی لاندی برخه ئې ښتهی، هغی ته
می وار (نوبـت) ورکړ او ماحـوصله وکړه. په
خلاصه توګه ویلای شـم چې نوموړی شپه
ډیره جالبـه او د یادونو ډکه شپه وه چې هیڅ
کله ئې هیرولای نه شو.
په بـله ورځ مې زړه طاقـت ونه کړ بـیا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کور خواته ورغلم څو د تیری شپی د عملیاتو نتیجه له نږدی څخه وګورم. خپل ځان می د کوټې په یوه تیاره ځای کې پټ کړ او د کورنی د غړیو د مشرانو خبروته می غوږ وینو چې داسې یې ویل: ډیر ستړی شو، اسد له خپل پلار سره په روغتون کې پاته شو. د اسد دوینې د معاینی پایله مو واخیسته او ملریا تشخیص شو. له خوښی نږدې وو چې چیغه کړم چې د ملریا د انتقال اتل دلته موجود دی لاکن له احساساتو څخه می مخنیوی وکړ خپل غوږونه مې بیا تیز کړل څو د پای خبرې واروم.

د کور خاوند خپلو خبروته دوام ورکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

ویې ویل:

روغتیایې حالت یې ډېر خراب دی ښه شو چې په وخت روغتون ته ورسید که نه نو خدای(ج) خبر چې څه به واقع شوي وو. ډاکترانو په عاجله توګه هغه ته سیروم ورکړل. زه فکر کوم اسد خوارکی د ملریا غوماشې چیچلی دی او داله دې کبله دی چې زموږ کرکی، جالی، نلري او د کور مخامخ خندق هم زیاته موده کیږي چې نه دی پاك شوې. میلمه توب د اسد په کورنۍ زهر شوه. همدې خبرې زما په غوږ کې جرنګ وکړ چې کیدای شي په راتلونکي کې زموږ لاره بنده شي.

په خاصه توګه که ویالی صفا او د ډنډونو

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړې او به وچې کړي.

په خفګان او اوږدو فکرونو د شنیلي او د ماشومانو د فوټبال چمن ته چې د نوموړي کور تر خوا پارک کې واقع وو ولاړم هلته د ولاړو اوبو یو ډنډ وو او زما دوستان هلته یو ځای سره راټول شوي وو. هلته سره یو ځای مصروف شولو او هغه کور مو هیر کړ.

له څو ورځو وروسته بیا هغه کورته روانه ووم ومې لیدل چې څو کسان د بیل او کدال او نورو وسایلو پواسطه د خندق په ډکولو لګیا دي ما خپل ځان د ونو پاڼو شاته پټ کړ. ستونی مې له ډېره غمه راډکیده او تر زیات فشار لاندې وو. په ډېر افسوس سره مې له ځان سره ویل چې تر دې وروسته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


چيرې ځم او له کوم ځايه به خوار تر لاسه کووم!!!

درمل شيندل يې پيل کړي وو. په ډير خفګان او غم سره له هغه ځايه والوتم. ورځې تيرې شوې لاکن زړه مې آرام او قرار نه درلود. څو هفتې وروسته بيا همدې ځای ته ولاړم.

پوهيږې چې څه مې وليدل؟

هغه کور مې پيدا نه کړ. هرې خواته مې چې وکتل نو موږی کور مې تر سترګو نه شو. د هغه پخواني کور پر ځای مې يو ډير پاك او صفا کور چې کړکۍ ئې په جاليو پوښل شوی وی کله چې ښه دقت مې وکړ په دې پوه شوم چې دا خو هغه پخوانی کور دی چې اوس پاك او صفا شوی دی له ليدو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


ئې دومره خفه شوم چې څو ځلې مې ځان په جالۍ ووهه چې وزرونه او پښې مې خوږ شول لاکن ومې نشو کولای چې کوټې ته داخل شم.

ګرانو لوستونکو!

اوښکې مې نه پرېږدي چې خپلو لیکنو ته دوام ورکړم. د نوموړي کور لیدل زما پر خفه اروا سخته ضربه وارده کړې وه په تلوار سره والوتم تر څو کوم بل ځای پیدا کړم.

(پای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستاسو د معلوماتو لپاره څو مختصر ټکي

## ملريا څه دی.

ملريا دويني يو پرازيتي آفت ده چې دانافيل مونثي غوماشي د چيچلو له لارې انسان ته سرايت کوی. دا آفت د لړزانده تبې، د طحال (توری) لويدو او ويني کموالی سبب ګرځی.

دا پرازيت له يوه انسان څخه بل ته د انافيل مونثي غوماشی (چې په خپلو لعابيه غده واتو کې دا پرازيت ولری) پواسطه هغه وينه زبيښي او په مقابل کې له خپلو لعاب (لاړو) سره د ملريا پرازيت د انسان ويني ته داخلوي. د ملريا پرازيت د ويني سروکريواتو او بيا ويني (کبد) حجراتو کې داخليږی او شميريي زياتيږی.

**د ناروغی سرايت:**

د ملريا غوماشی په ولاړو اوبو او ډندونو کې هګی اچوی او بچي هلته انکشاف کوي. او په ملاريا اخته کسانو دويني زبيښلو له لاري له يوه انسان څخه بل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرايت کوي.

ملريا يو تبــــه لرونکې ناروغي ده چې په ســـــردرد او لړزاندې تبې سره شروع کېږي چې د بندونو (مفاصلو) او ټول ځان دردونه ورسره يو ځای وي. تبه د ملريا پرازيت د نوعيت له مخې کله کله په منظم ډول يوه ورځ په منځ کې په بله ورځ په متناوب ډول او يا کله کله په غير منظم ډول ليدله کېږي.

**اختلالات:**

دويني کميدل او توری (طحال) غټيدل دی.

**وقايه:**

د کوټو کړکيو ته جالی نيول، د ولاړو اوبـــو او ډنډونو له منځه وړل او د حشراتو ضد درملو پاشل په خاصه توګه د تودوخې په موسم کې.

**تداوي:**

ناروغ ډير ژر داکتر ته ورسوی او د داکتر په مشوره هغه ته درمل ورکړی. په خپل ســر او د داکتر له مشـــوری پرته ناروغ ته له درمل ورکولو ډډه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

10

# Khaterat Pasha-e-Malaria (Malaria Mosquito)

Published by : Sanayee Development Organization (SDO)
Editor-in-Chief : Raz Muhammad Dalili
Author : Abdullah Kakar
Artist : Sultan Hamid Fanoos
Translated by : Assosiat frof Amanullah Ludin
Composed by : Saifullah Zamani

1st Edition : 1000 copies, Financed by (SDO), May 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Nov 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Feb 2008

Publishing date : Apr 2010
Number of copies : 2000 copies
Financed by : Sanayee Development Organization (SDO)

Kabul address : Sanayee Development Organization (SDO)
Qala-e-fatiullah 9th street, Near Shahoon Electricity Junction
Kabul telephone : 0093-(20) 2201693
Post Box : 181 Kabul Afghanistan
Email : sdfkabul@ceretechs.com
Websites ; wwwsanayee.org
Www.nawidefarda.com

Peshawar Address : Kabul English Language Center,
Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan
Telephone : 0092-91-5842155 - 91582165
Fax : +92+-1-5845139

All Rights Reserved

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**